# جنګي سپي


Ketabton.com

ليکوال : محب الله زغم

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د کتاب پېژندنه :


| | |
|---|---|
| د کتاب نوم : | جنګي سپی |
| لیکوال : | محب الله زغم |
| انځورګر : | الحاج عبدالهادی تپاند |
| اوډون : | حفیظ الله یاور |
| د چاپ کال : | ۱۳۸۷ |


www.Ketabtoon.net

## ډالی :

خپلو زامنو محبوب الله ، روهین او ربښتین ته یې په مینه ډالی کوم

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

جنگي سپی د خپل کور مخې ته ولاړ و. د هغه زنځير په ونې پورې تړلی و. مخې ته يې په يوه لوی غاب کې يوځه غوښې او هډوکي پراته وو. څنګ ته يې د تالي په تل کې شېدې پاتې وې. يوه کوچنۍ سپۍ تالي ته ورنژدې شوه. خپله ژبه يې راایستلې وه. جنګي سپي خپله لويه خوله خلاصه کړه ، تېرې داړې يې ښکاره شوې. هغه وغرېده: څه کوې ؟



Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

سپی لکی و ښوروله او ويې ويل : وړې يمه ، شيدو ته مې زړه کېږي.

جنگي سپي وويل : ځغله ، مفت خوره. خاوند خو مو هسې چا ته شيدې نه ورکوي.

وړې سپی په حيرانی وويل : نو څنگه يې ورکوي ؟

جنگي سپي خپله پلنه غاړه هسکه کړه او په ډډ غږ يې وويل : زه خويې همداسې گټم ، همداسې يې څټم. ها بله ورځ مې په جنگ کې ورته بلا ډېرې پيسې وگټلې. ته خو يې هسې د خپلې لور د سات تيری لپاره راوستې يې که نه ته خو هېڅ په درد نه لگېږې.



Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

سپی ورته زاری وکړې خو هغه ورته شیدې ورنکړې.

یوه ورځ سهار د هغوی ښبتن دجنگي سپي زنځیر خلاص کړ او سراچې موټر ته یې پورته کړ. هغه په موسکا سپی ته وویل: دا دی ما بیا جنگ ته بیایي ، زه به بیا ورته پیسې وگټم. تا غوندې مفت خوره خو نه یم.

سپی د شیدو تالي ته وکتل او په زړه کې یې وویل چې کاشکې زه هم غټه وای او په جنگ کې مې پیسې گټلای.



Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

غرمې مهال موټر انګړ ته راننوت. سپی یې راکښته کړ. د هغه ورمېږ په وینو سور و. سر یې ټيټ نیولی و. لنډه لکۍ یې ځړېدلې وه. سترګې یې سرې او تنګې وې. ژبه یې راوتلې وه او ژر ژر یې سا کښله.

هغه یې په ونې پورې وتاړه. خاوند یې کوټې ته لاړ. د واسلینو ډبلی یې راوړ. د سپي د غاړې ټپونه یې پرېمینځل او بیا یې په واسلینو غوړ کړل.



Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

روسته سپي هڅه وکړه چې خپل ټپونه وڅټي ځکه چې د هغه په ناړو کې داسې مواد شته چې زخم رغوي او درد یې کراروي. خو چې هر څه یې کول ژبه یې ټپونو ته نه رسېدله. ډنګره سپۍ لرې ولاړه وه او ورته کتل یې.

د وړې سپۍ زړه پرې وسو. ورنژدې شوه. په وېرېدلي غږ یې وویل : زه یې درته وڅټم ؟

سپی چې له درده تاوېده راتاوېده کېناست او ویې ویل: ډېر خوږېږي.

سپۍ د هغه ټپونه تر هغې وڅټل چې سپی وېده شو.



Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

مازدیگر چې هغه راویښ شو مخې ته یې د شیدو ډک تالی ایښی و. ژبه یې په شیدو کې ډوبه کړه خو بېرته یې سر پورته کړ. سپی ته یې ورناري کړې: راشه شیدې وڅښه.

سپی وویل : نه ، دا خو ستا برخه ده. تا به پیسې ګټلې وي.

سپي وویل : ما جنګ بایلود. نن مې پیسې نه دي ګټلې. خو ستا ملګرتیا مې وګټله. نور به زه او ته دواړه په یوه کاسه کې ډوډۍ خورو.

څو شېبې وروسته دوې ژبې د شیدو په تالي کې غوټه وې ، یوه د سپي او بله د سپی.



Downloaded from: www.ketabton.com

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**